# د واکسیناتورانو لپاره د پولیو اړوند معلومات


نقیب ؛ وصـــال ؛

Ph: 0774595999

همکار سیدالرحمن ؛رحماني؛

Ph:0749221129








Naqib Wisal

(+93)774595999

naqib wisal


ژوند ښکلي ده !

یوه ورځ یو ساعت او یوه دقیقه به مو په ژوند کی
بیا را نشي . نو جګړو ،قهر ، نفرت ، او جهالت
څخه ځان وساتي او هر چاته هیله ښوونکي خبري وکړي.



**پولیو تعریف کړئ؟**

**ځواب:پولیو دماشومتوب دورې یوه حاده ساري ویروسي ناروغي ده،چې اکثره دپنځو کالو کم عمره ماشومان پرې اخته کېږي، چې دماشوم دتل پاتي معیوبیت او حتی دمړیني لامل کېږي. چې لامل یې دپولیو وحشي ویروس دی.**

**واکسین تعریف کړي ؟**

**ځواب: واکسن یوه نیمه ژوندی ویروس دی،چې وجود ته توان نلري ،بلکی د اړوندو ناروغیو په وړاندې دفاغي سیستم قوي کوي.**

**فلج تعریف کړئ؟**

**ځواب:هره کله چې د وجود کوم غړی خپله نور ماله وظیفه له لاسه ورکړي فلج بلل کېږي.**

**حاد نرم فلج تعریف کړئ؟**

**هر هغه ماشوم چې عمر یې له ۱۵ پنځلسو کالو څخه کم وي او تازه په حاد نرم فلج اخته شوی وي، یا د وجود دغړو کمزورتیا ولري حاد نرم فلج بلل کېږي.**

**اساسي پیغامونه څودي ولیکئ؟**

**ځواب: اساسي پیغامونه څلوري دي:**

**اول: ټول ماشومان د پیدایښت سره سم واکسینه ول په کلینک کې، د لس دوله وژونکو ناروغیو په مقابل کې.**

**دوهم:ټولي هغه زنانه چې عمر یې د (۱۵) کالو څخه تر( ۴۹ )کالو پورې وي د قبلي یا تیتانوس په ضد واکسین کړئ.**

**دریم:هغه ماشومان چې عمرورنه یې ۵ کلنی څخه کم وي ،د واکسینو په هره دوره کې واکسین کړئ.**

**څلورم:حاد نرم فلج پوښتنه کول.**

**دپولیو بنستیز ټکي څو دي ولیکئ؟**

**ځواب: دپولیو بنسټیز ټکي دوه دي،۱:پولیو څنګه انتقالیږي۲:پولیو مخنیوی څنګه کېږي.**

**۱ پولیو د خولي له لاري خپرېږي ۲ مخنیویی دوه څاڅکي مؤثر واکسین او خفظا لصخه**

**موثر واکسن کوم واکسین دي؟**

**ځواب: ۱:چې لیبل ولري۲:په تاریخ تېر نه وي۳:چټل نوي۴:شاهد روښان وي ۵: وچ وي**


**دپولیو دمنځه وړلو ستراتیژی څو دي؟**

**ځواب :پنځه دي**

**روزمراه واکسن په کلینک کې Rotin**

**SIA یا NIDs SNIDs**

**AFP Sarvilance د خاد نارم فلج لټون**









*Prepared by Eng Naqib Wisal Ph No:0774595999 Email: princenaqib786@gmail.com*



غیر فعال د پولیو واکسین یا د ستنې لا لارې IPV



د خولې لا لارې د پولیو واکسین OPV

**یا د چاروکاري پروګرام Moping**

**مؤثر اما پوهوي**

**دپولیو واکسین په څو ډوله دي نمونه واخلئ؟**

**ځواب په دوه ډوله دي.OPV IPV**

**OPV واکسین څو فیصده یوه انسان ته معافیت ورکوي؟**

**ځواب:۶۰% نه نیولې تر ٪۷۰پورې بدن ته معافیت ورکوي.دا واکسین دوه ګټې لري یو انسان ته بل محیط ته ګټه رسوي.**

**IPV واکسین څو فیصده یوه انسان ته ګټه روسوي؟**

**ځواب: دا وکسین یوه انسان ته له ۹۰ % نه ۹۵% ګټه رسوي خو دا یوازې یوه شخص ته ګټه رسوي محیط ته ګټه نه رسوي.**

**نوټ : OPV واکسین بهتر دی نسبتآ IPV**

**ولې پولیو له منځه وړو یا ولې دپولیو له منځه وړل امکان لري؟**

**ځواب: ۱: وحشي ناروغي دی .۲: یوازنی کوربه یې انسان دی.۳:دمحوه کیدو وړ دی.۴:درملنه نلري.۵:کوم طبعي پرسونل ته اړتیا نلري.۶:په محیط او انسان کې کم وخت تېروي.۷: مؤثر واکسین لري.**


**پولیو دویروس له نظره په څو ډوله دی؟**

**ځواب: په درې ډوله دی. P1 P2 P3**

**دواکسین دویال شاهد له څو برخو څخه جوړ شوی دی؟**

**ځواب : له دوه برخو څخه جوړ دی: دایرې او مربع څخه.**

**دایره مربع**




**نوټ: کله چې مربع روښانه وي دتطبیق وړ دی ،کله چې مربع تور شي د تطبیق وړ نه دی.**


**واکسن دوه حالاته لري: اول حالات کې تطبیق وړ دی، خو دوهم حالات کې دتطبیق وړ نه دی.**

**VVMڅه ته وایې؟**

**ځواب: VVM د ویال شاهد دی :د خساسو موادو جوړ شوي کاغزي لیبل چې د ویال په مخ نسب شوي وي او موږ ته دابښايي چې واکسین د تو دوخې له لوړ حرارت سره مخ شوی که نه.**

**سوړځنځیر تعریف کړئ؟**

**ځواب:هغو افرادو وسایلو څخه عبارت دی چې د کمپنی له تولید نه تر تطبیقه پورې د +۸+۲ پورې په معاینه درجه کې ساتلو ته سوړ ځنځیر وایی**




*Ph No:0774595999 Email: princenaqib786@gmail.com*

ويټامين ای (vitamin A) کوم عمر ماشومانو ته ورکوو؟

ځواب: هغو ماشومانو ته ور کول کيږي چي عمرله شپږو مياشتو څخه پورته وي له پنځو کالو کم وي .

ويټامين ای(vitamin A) په څو ډوله دي ؟

ځواب : دوه ډوله دي .





سره کپسول 200000 IU (60 mg)

ابي کپسول 100000 IU (30mg)




نوټ : ابي کپسول د ۶ مياشتو نه تر ۱۱ مياشتو پوري . سره کپسول يو کال نه تر پنځو کالو پوري.

البينډازول (دچنجيو ګولۍ)د کوم عمر کسانو ته ور کول کيږي؟

ځواب : دوه کلنی نه تر پنځه کلنی پورې ور کول کيږي ،چي يوه ګولۍ ۴۰۰ ملي ګرامه ده.

نوټ : دوه کلنی نه کم عمر ماشومانو او پنځه کلنی نه لوی عمر ماشومانو ته نه ور کول کيږي.

کمپاين تعريف کړئ؟

ځواب:په لږ وخت کې زيات کار کول په يوه محدوده ساحه کې کمپاين بلل کيږي.

رضا کار دندې کومې دي ؟

ځواب:۱:ترينګ اخيستل ۲ :نقشه جوړه ول ۳: خپل سوپر وايزر نه د واکسينو سپلاي اخيستل ۴: کور په کور ګرزيدل ۵:تلاشيټ منظم ډکول ۶:انکاري. ناروغ .ويده .عير خاضر . ماشومان منظم ليکل ۷:دروازې په نښه کول ۸:RV کول ۹:ګوتي رنګ ۱۰: د واکسينو اړوند توکو ساتل ۱۱:خپل کار پوره صداقت سره کول

دفلج او پوليو ترمنځ توپيرونه ؟

ځواب: هر پوليو فلج کيداى شي او هر فلج پوليو کيداى نشي.

فلج په څو ډوله دی؟

ځواب:دوه ډوله دی ۱: شخ ۲:نرم فلج

نوټ: شاخ فلج د بدن کوم غړي چي خپله دنده سر ته نشي رسولي .

نرم فلج هغه دی چي دانسان بدن کوم غړی خپله نورماله وظيفه دلاسه ورکړي.

کور ته په سمه توګه ورتګ يا GATHER.



Prepared by Eng Naqib Wisal Ph No:0774595999 Email: princenaqib786@gmail.com

**Griting** سترمشي يا سلام اچول **Asking** د صخت پوښتنه کول يغني کور کي کراري ده **Tell** د ۰ نه ۵ کالو پوري ماشومانو پوښتنه کول **Help** د ماشومانو په منظم واکسين کولو کي کومک کول **Explan** د واکسينو تشريخ کول چي کلينک کي ۱۰ ډوله واکسين شته **Retarn** معلومات ورکول چي موږ بيا را ځو .

## د سوپر وايزر اړوند معلومات

**سوپرويژن تعريف کړئ؟**

**ځواب:په يوه ساحه کي مشکلات پيداکول او بيرته په په هغه ساحه کي مشکل حل کولو ته سوپرويژن ويل کيږي.**

**کلستر تعريف کړئ؟**

**ځواب:له هغې محدودې جغرافيی ساحې څخه عبارت دی چې د څو تيمونو په واسطه پوښل شوې وي ديوه سوپرويزر تر نظارت لاندې وي کلستر بلل کيږي.**

**سوپرويزر څه معنا؟**

**ځواب: سوپر معناً(قوي) ويزر معنا ليدل: ياهم نظارت کولو ته سوپرويزر وايی.**

**سوپرويژن له کوم تيمونو بايد وشي؟**

**ځواب: ۱:د پوليو کيس ورنه راغلی وي ۲:هغه تيم چې کوم غړی يې نوی وی ۳: تيرکمپاين کی ناکام وئ**

**۴ کواريج يی زيات وي**

**سوپرويژن له کوي ساخي بايد وشي؟**

**ځواب: ۱ سرخدی وي ، هيواد ،ولايت،ولسوالي، کلستر، تيم ، سره سرخد ولري ۲ ګڼ نفوسه وي ۳ لوړ خطر لرونکي خلک ولري**

**دسوپر ويزر دندې کومې دي دکمپآين نه مخکې روسته دکمپاين نه؟**

**ځواب:ترنينک اخيستل ۲:غوره سلېکشن ۳:نقشي جوړول ۴:رضاکار ترنينک کول ۵: سپلای کول ۶:توضيع پلان جوړول ۷:رضاکار ته سپلای کول ۸:بيرته بيا تسليمول**

**.۸:ساحې ته تګ کول ۹:چک ليس ډکول ۱۰:مشکل حال کول ۱۱:انکاريانو ته ورتګ ۱۲:مازيګر درضاکارانو سره ليدل ۱۳: توحيدي راپور جوړول ۱۴ مالي اسناد جوړول ۱۵ : انکاري لپستونه جوړول ۱۶: ټول لوازيم ځان سره لرل۱۷ : ورځينی ډاټا جوړول سرحدات په منظم ډول معلومول :...کمپاين روسته:ټول تلاشتونه جوړول او مسوول کس ته سپارل**

**پاتي ساحه تعريف کړئ؟**

**ځواب:هغې ساحې ته ويل کيږي چې په (۷) ليدل شويو کورونوکې دوه يا زيات کورونه پاتې وي پاتې ساحه بلل کيږي**
**نوټ : په دعه خالت کي تيم شړل کيږي په ځآی به نوي رضاکاران دنده کوي.**

**ميس ساحه کومه ساحې ته وايي؟**

**هغې ساحې ته وايې چې په( ۷) ليدل شويو کورونو کې دوه يا زيات ماشومان د ګوتې دنښې له رويه پاتې وي ميس ساحه بلل کيږي.**



*Prepared by Eng Naqib Wisal Ph No:0774595999 Email: princenaqib786@gmail.com*

نوټ : په دغه خالت ټیم نه شړل کیږي خو ساحه به بیرته له سره ریچیک کیږي .

نقشه کې څه شی مهم دي؟

ځواب: سراحدات باید منظم وي ،میکروپلان برخه باید منظمه وي ،کورونه ،جوماتونه، ښوونځي ، وړکتونونه ،مدرسي،کوچیان،کلینیک ،دا ټول باید منظم لیکل شوي وي .

لوړ خطر لرونکي خلک کوم دي؟

ځواب : ۱: کوچیان ۲: مسلیان ۳: دوه کوره ۴: کال نه واړه ماشومان ۵: انکاري.

دویتامین ای (vitamin A)عمومي فارمول ټارګیټ ماشومان ضرب (۰,۹کی)

مثال: ټارګیټ ماشومان (۲۱۸۰)دغه موږ راخلو په (۰,۹ ) کې ضرب کوو نو موږ ته به ضرورت وړ ویټامین ای په لاس را کړي.(۲۱۸۰ضرب ۰,۹=۱۹۶۲ )نتیجه شو.

ویټامین ای ضرورت څه دی؟

ځواب: دماشومانو په وده ،نموع او دسترګو دشبکوری لپاره ګټوري دي.

د البینډازول عمومي فارمول ولیکئ؟

ځواب: ټارګیټ ماشومان ۱۶۷۸ دغه ماشومان به ضرب کړو په ۰,۶ کې ضرب کوو موږ ته ضرورت وړ ګولیو نتیجه په لاس راکوي.

۱۶۷۸ضرب ۰,۶=۱۰۰۶ مجموعه ګولی شوی.

ایا د پولیو ناروغی څخه انسانان مړه کیدای سي؟

ځواب: هو هغه ناروغان چې د پولیو په ناروغی اخته کیږي (۵٪ــــ۱۰٪ پورې هغه وخت مړه کیږي چې ،تنفسي عضلات یې د فلج تر برید لاندې راشي د مړیني کچه دعمر له زیات والي سره زیاتیږي.

په لومړي ځل پولیو ته چا ماتې ور کړه؟

ځواب: په لومړي ځل پولیو ته امریکا براعظم ماتي ور کړه .

په ټوله نړۍ کې د پولیو واکسین کله پیل شو؟

ځواب: په ټوله نړۍ کې د پولیو واکسین په ۱۹۸۸ م کال کې پیل شو ،په افغانستان کې په ۱۹۹۶ م کال په لومړي ځل په جلال اباد ښار کې پیل شو.

(AFP)حاد نرم فلج معاینات تر څو میاشتو پورې اخلي او غوره وخت یې کوم دی؟

ځواب :معاینات تر دوه میاشتو پورې اخلو ،غوره وخت یې ( 1 نه تر 14) ورځو پورې دی.

(AFP) شکمن ماشوم څخه څو معاینات اخلو؟

ځواب: دوه معاینات اخلو کله چې یوه معاینات واخلو بل ۲۴ ساعته بعد بل معاینه ترې اخلو .

نوټ: کله چې د ۱۴ ورځو څخه زیات وخت پرې تیر شي بیا د درې ګاونډیو ماشومانونه څخه یوه معاینه اخلو .


Prepared by Eng Naqib Wisal Ph No:0774595999 Email: princenaqib786@gmail.com

(AFP) راپور تر څومره وخت پورې اخلو ؟

ځواب : (AFP) راپور تر شپږو میاشتو پورې اخلو .

د ویالو معلوماولو فارمول ولیکئ؟

ځواب 1.1 ضرب هدف وړ ماشومان

20 دوز

دفیصدی فارول ولیکئ؟

ځواب: 100 ضرب واکسین شو

لیدل شویو

ضایعاتو فارمول ولیکئ؟

ځواب: 100 ضرب تطبیق شوی منفي مصرف شوی

تقسیم په مصرف شویو

دواکسینو دوسایلو نومونه

واکسین کریر یا واکسین وړونکي



اسپک یا د یخ کڅوړه



ویال یا د واکسنو بوتل



ډراپر یا څاکي اچونکي





Prepared by Eng Naqib Wisal Ph No:0774595999 Email: princenaqib786@gmail.com

**اضافي مغلومات:**

**د ۲۰۱۹ م کال نه تر ۲۰۲۳ م کال پوري د پولیو مثبتي پیښني په افغانستان کي.**

**۲۰۱۹ م کي (۲۹) ۲۰۲۰ م کي( ۵۶) ۲۰۲۱ م کي (۴ ) ۲۰۲۲ م کي ( ۲) ۲۰۲۳ م کي (۶)**

**په ۱۹۸۸ م کال کی په ۱۲۵ هیوادو کي په پولیو ناروغي باندي (۳۵۰۰۰۰) کسان احته وو .**

**پولیو وایرس په دري ډوله دي**

**۱ P1 چی اوس هم شتون لری.**

**۲ P2 په ۲۰۱۲ م کال کی ختم شو .**

**۳ P3 په ۱۹۹۲ م کال کي ختم شو .**

**د پولیو علایم : تبه، زوکام،نس ناستي، کانګي**

**د واکسینو جوړښت : اوبه، مالګه، انتی بیو تیک، ضعیف شوي د پولیو وایرس.**

**ساخي د واکسینو د تطبیق لا مخي په دري ډوله دي.**

**G1 دغه ساخه کي د ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰ پوري ماشومان باید واکسین شي.**

**G2 دغه ساخه کي د ۱۰۰ څخه تر ۱۵۰ پوري ماشومان باید واکسین شي.**

**G3 دغه ساخه کي د ۵۰ څخه تر ۱۰۰ پوري ماشومان باید واکسین شي.**

**په افغانستان کي د EPI د هدف وړ ناروغي او د هغوي د وقایه لپاره اړوند واکسین .**

**۱ PCV سینه بغل ۲Roota اسهال ۳ TB توبر کلوز ۴ Polio ګوزڼ ۵ Measles شری**

**۶ Pertusis شنه توخلي ۷ Diphtheria دیفتریا ۸ Tetanus تیتانوس**

**۹ Hepatitis B تور ژیري ۱۰ Hemupalius انفلوانزا**

ډیرو انسانانو د دي خبري له وجهي خپل ټول آرمانونه خاوري کړل چي خلک به څه وايي.



*Prepared by Eng Naqib Wisal Ph No:0774595999 Email: princenaqib786@gmail.com*